Social Science
AcademicJournal

ليډ د ټولنيزو علومو علمي مجله

LSSAJ

# ابراهیم عطايي او د داستاني آثارو کره کتنه

پوهندوی مطیع الله روهیال

پښتو څانګه، ښوونه او روزنه پوهنځی، کندهار پوهنتون

مسؤل ايميل ادرس: mrohyal2013@gmail.com

ترلاسه سوې: ۱۴۰۴/۰۴/۰۴ منل سوې: ۱۴۰۴/۰۵/۱۷ خپره سوې: ۱۴۰۴/۰۶/۳۰ دثبت کډ: LSSAJ-2-1-07 مخونه (۸۲-۹۰)

## لنډيز

کره کتنه د ادبپوهنې د اصلي موضوعاتو څخه ګڼل کېږي، د کره کتنې په زور موږ د یوه ادبي اثر ښې او کمزورې خواوې معلومولای سو، د کره کتنې اصول موږ ته وايي چې نقاد بايد د اثر له خالق سره څه اړه و نه لري بلکې د هغه توليد ته کتنه وکړي او ښېګڼې او بد ګڼې ئې له شخصي اغراضو پرته د ادب د پرمختګ او لوړتيا له پاره وپلټي.په دې څېړنه کې د کانديد اکاډميسين محمدابراهيم عطايي د داستاني آثارو هغه کره کتنې څېړل سوې دي چې د افغاني او خارجي داستاني آثارو په باب ئې کړې دي. د ابراهيم عطايي هغه کره کتنې چې د افغاني آثارو په اړه ئې تر سره کړې دي په کابل مجله کې خپرې سوې دي او د نړۍوالو داستاني آثارو په باب کړې کره کتنې ئې چې تقريباً د سلو داستاني آثارو کتنې پکښې شاملې دي زيري جريدې په شپېتمو کلونو کې خپرې کړې دي.

ابراهيم عطايي د نړۍوالو آثارو په جمله کې د انګريزي، روسي، فرانسوي، امريکايي او داسې نورو ليکوالو داستاني آثار هغه که ناولونه دي يا هم د لنډي کيسې په چوکاټ کې ليکل سوي آثار دي تر کتنه لاندې نيولي دي. د دغو کره کتنو کمي او کيفي خواوې څېړل د حاضرې مقالې اصلي موضوع ده، چې د توصيفي – تشريحي ميتود پر اساس ئې بېلابېل اړخونه سپړل سوي او څېړل سوي دي.

لومړی د ښاغلي عطايي او نورو افغاني ليکوالو پر کره کتنه بحث سوی دئ، وروسته د مناقشې او موندنو په برخه کې د عطايي مرحوم د کره کتنو اصلي جوهر پلټل سوی او په آخر کې نتيجه پر بنا سوې ده، په پايله کې د استاد عطايي د کره کتنو ځينې ځانګړنې په لنډ ډول سره ښوول سوي دي.

**کليدي کلمې:** ابراهيم عطايي، داستاني آثار، کره کتنه.

## سريزه

پر ادبي آثارو باندې د کره کتنې د مطالعې په لړ کې ځو واره له دغې مقولې سره مخ سوی یم چې وايي: «د افکارو له تصادم څخه د حقيقت برېښنا رامنځته کېږي.» د دغې مقولې اساسي خبره دا ده چې تر واحد نظر د نظرياتو تنوع مهمه ده، هغه هم داسې تنوع چې د دلايلو او منطق له مخې يو

و بل نظر رد یا تائید کړي، دغه ډول فکري تصادم انسان د یوې موضوع واقعیت یا عمق ته رسوي. څنګه چې انسانان یو د بل په مقابل کې په ظاهري او فزیکي جوړښت کې توپیر سره لري، په همداغه شکل ئې فکري و ذهني څرنګوالی هم فرق کوي. د دغه فکري توپیر له اسیته یوه موضوع له بېلابېلو زاویو او فکري تګلورو څخه شاربل کېږي، تر څو د حقیقت روښنايي تر لاسه سي.

کره کتنه په ځانګړې توګه د ادبي/داستاني آثارو کره کتنه د دغسې سالمو فکري او ذهني ټکرونو نتیجه ده، تر څو موږ وکولای سو د یوه اثر ښېګڼې و بدګڼې په داسي ترازو وتلو چي نتیجه ئې لوستونکی واقعي لاري ته سیخ کړي.

محمدابراهیم عطایي یو له هغو لیکوالو او محققینو څخه وو، چې د افغاني فرهنګ د بېلابېلو خواوو پر رنګارنګۍ ئې قلم چلولی دئ. استاد عطایي که له یوې خوا یو پرکاره ژورنالیست وو، تر څنګ ئې د اتنوګرافۍ په باب هم پلټني او تحقیقات کړي دي. د فولکلور پوهنې کارونه ئې اساسي او بنیادي ارزښت لري او د افغانستان د معاصر تاریخ په باب د هغوی پلټنې او تحقیقات زموږ د هیواد په تاریخ لیکنه کې نه یوازې د موضوعاتو د استناد او کره والي له مخې بلکې د تاریخ لیکنې د میتودلوژۍ له اسیته هم ډېر لوړ ځای لري. د دغو ټولو وړتیاوو تر څنګ ئې د ادبي آثارو په باب خورا ډېرې او مغزنې څېړنې کړي دي. په دغه لړ کې ئې ځینې مستقیم ادبي تحقیقات دي چې د هیواد په نشراتو او یا په ځانګړي ډول خپاره سوي دي او بله برخه ئې بیا د نورو پر آثارو په ځانګړې توګه د افغاني او خارجي ادبي آثارو پر کمي و کیفي خواوو کره کتنې کړې او چاپ کړې دي.

پر نړۍوالو داستانونو او کیسو باندې کره کتنې د پښتو په ادبي سیر کې له پخوا راپیل سوې چې د مرحوم عطایي کره کتنې ئې د پیل په آثارو کې راځي، تر هغه وروسته نورو پښتنو لیکوالو هم په دې باب قلم چلولی دئ، د محمداکبر کرګر «ادبیات او د انسان دننۍ نړۍ» چې په ۲۰۰۵م کال خپور سوی دئ هم له دغي جملې څخه شمېرل کېږي. په دې اثر کې د فرانځ کافکا، البرت کامو، ګارسیامارکز او د ګویته د فاوست آثارو ته کتنې سوي دي، البته دا کتنې تر ډېره له فلسفي زاویې څخه سوي دي، د لیکوال خپل نظر په دې اړه داسي دئ: «په دادبیاتو کې طبیعي خبره ده چې د لیکنو او هستونو دا لاره چې موږ پرې بحث کوو د نیچرالیستانو او ریالیستانو لاره نه ده بلکې فلسفي یونیفورم یې په تن او د اروارپوهنې انرژي یې په رګونو کې حرکت کوي.» (کرګر، ۲۰۰۵)

بل افغان کیسه لیکوال او کره کتونکی ایمل پسرلی دئ، چي په ۲۰۲۰م کال ئې «د نړیوالو کیسو کیسې» ولیکلې. د دې اثر اهمیت په دې کي دئ چي نه یوازي پر نړۍوالو کیسو ئې کره کتنه او بحث کړی دئ بلکي ټولی هغه کیسي چي بحث پر سوی دئ، هغه ئې له انګرېزي څخه ترجمه کړي او د پښتو څولی ته اچولي دي. د کیسو د غوراوي او پر هغوی د بحث په باب ایمل پسرلی لیکي: «د دغو نړیوالو کیسو د انتخاب پر وخت مې د کیسو د لیکنو طرز او سبک ته پام کړی دی. د لیکوالانو هېوادونو ته مې دقت کړی، نه مې غوښتل د یوې سیمي یا یوه هېواد ډېرې بېلګې ولرم، حال دا چې په نړیوالو ادبیاتو کې امریکایي او روسي خورا غني دي خو ما هڅه وکړه چې د نړۍ له لره او بره کیسې ولرم» (پسرلی، ۲۰۲۰م).

«نجیب محفوظ څرنګه کیسې لیکي؟» د اجمل پسرلي لیکلی اثر دئ چي د نجیب محفوظ د کیسو او داستانونو په باب ئې خپل برداشتونه زموږ سره شریک کړي دي. په دې کتاب کي د محفوظ د ناولونو او کیسو پر تخنیکي او ښکلاییزو اړخونو بحثونه سوي دي، اجمل موږ دا راښيي چي د محفوظ په کیسه کي جزابیت په څه کي دئ او ولي د دې لیکوال آثار د نوبل جایزې مستحق وګڼل سول. «د محفوظ ځینې کیسې لکه زموږ د کوڅې کوچنیان او د پایلوچانو حماسه فلسفي رنګ لري، په نورو ګڼو کیسو کې یې هم د کرکټر نفسیاتي اړخ ډېر ژور انځور کړی دی.» اجمل، ۱۳۸۸)

## مناقشه او موندني

د کره کتني هغه ډول چي د یوه ادبي اثر ټولنیز څرنګوالی او طبقاتي حالات پکښي څېړل کېږي مارکسستي کره کتنه نومېږي. په مارکسستي کره کتنه کي چي اردو ژبي ئې اشتراکي نقد بولي تر نورو خواوو د نظریې اړخ قوي او بارز وي. مارکسستي کره کتنه په یوه ادبي اثر کي د ټولني له پاره سیاسي اهداف په نظر کي نیسي: «دغه ډول کره کتنه هم د تاریخي او ټولنیز نقد په څېر له ټولني سره تړلو عواملو ته اهمیت ورکوي او دا ښيي چي ټولنه ادیبان او ادب څنګه متاثره کوي ... د کره کتني له نورو ښوونځیو سره مارکسستي نقد د بېلتون یوه اساسي وجه دا ده چي ددغه ډول پیل خاص د ادبي مقاصدو له پاره نه وو.» (یون، ۱۳۹۴) بلکي د دې کره کتني اصلي موخه د ټولني په پرمختګ کي د مادیاتو پر رول راڅرخي.

«د مارکسستي کره کتني بنسټګر کارل مارکس دئ. دده د نظریاتو په تشریح او غني کولو کي انګلز هم رول لاره. تر نونسمي پېړۍ پوري د هنر او ټولني اړیکه څرګنده سوې وه. مارکس د ټولني او

اقتصاد د اړیکو پر بنسټ د ادب او اقتصاد اړیکي واضح کړي. هغه د خیال او عمل پر یووالي ټینګار وکړ. دا چې ادب د فرد او د هغه د ټولني مسایل وړاندي کوي او په ټولنیزو مسایلو کي اقتصاد او عاید هم شامل دي نو له دې امله ادبیات له اقتصادي حالاتو څخه هم اغېزمنېږي.» (جهان، ۱۹۸۹)

ابراهیم عطایي د داستاني آثارو په کره کتنه کي تر ډېره اجتماعي حالات، طبقاتي وېش او د تاریخ د مادي عواملو څرنګوالی په نظر کي نیولی دئ. د یوه ادبي اثر داسي سپړل او شنل چې پورته څانګړني په نظر کي پکښې ونیول سوي مارکسستي کره کتنه یا د اردو ژبو په اصطلاح اشتراکي نقد بلل کیږي.

د ابراهیم د داستاني آثارو هغه که د داستان په سطحه وي یا هم د لنډې کیسې په چوکاټ کي، تقریباً ټولي کره کتني پورتنی څانګړني په بر کي نیسي. استاد د یوه ادبي اثر تر تخنیکي خوا د هغه اثر محتوایي اړخ ته ژوره توجه کړې ده، د اثر د کرکټر تر څېړلو ئې د هغه اثر طبقاتي څرنګوالی په نظر کي نیولی دئ، په عمومي ډول ویلای سو چې د استاد کره کتني د اشتراکي کره کتني غوره نموني دي. څکه په دغه ډول کره کتنه کي د یوه ادبي اثر تخنیکي او شکلاییز اړخ ته ډېره توجه نه کېږي بلکي هغه خواوي په نظر کي نیولي کېږي چې د یوه ادبي اثر ټولنیز اغېز وښیي، پر ټولنه او د خلکو پر ژوند ئې تأثیر معلوم کړي. د خان او ملك، د فیوډال او مزدور ژوندانه ته په کوم نظر کتل سوي دي؟

«په مارکسستي نقد کي د ادبیاتو د مطالعې له پاره له اجتماعي حالاتو، طبقاتي وېش او د تاریخ د مادي عواملو جایزه اخیستل تر حده زیات ضروري برېښي ... د مارکسستي نقاد په ګروهه که چیري ادب د ژوند پراخه او پېچلي مبارزه کي د عوامو ترجماني و نه کړي، نو له دغه ډول ادبیاتو څخه کومه ګټه نه ده متصوره.» (یون، ۱۳۹۴)

ابراهیم عطایي دوه ډوله آثار تر کره کتنه لاندي نیولي دي: یو ډول ئې د څینو افغاني آثارو کره کتني دي، په دې برخه کي زه د مرحوم عطایي د لاندي آثارو پر کره کتنه او نقد پېښن سوی یم:
د امانت پر ناول کره کتنه، د ماموني پر ناول کره کتنه او د امانت ناول سره د هغه مقایسه، د ګل خان په نامه پر پښتو ناول کره کتنه، د تربور پر پښتو ډرامه کره کتنه، د "رحمان کورونه" نومي داستاني اثر کره کتنه، د کوټې د اووم اکتوبر رزم یوه لنډه شننه او د چاودې ښیښه نومي داستان نقد.

د پورته ادبي آثارو زیاتره کره کتني د کابل مجلې په بېلابېلو ګڼو کې خپرې سوي دي.
دوهم ډول ئې د نړۍ والو مشهورو داستاني آثارو کره کتنه ده، چې زیاته برخه ئې په شپېتمو کلونو کې په زېري جریده کې خپره سوې ده. د دغو کره کتنو تر دېرشو زیاتي ئې ما په یاد اخبار کې کتلي او مطالعه کړي دي. په نړۍ والو آثارو کې ئې د امریکایي، انګرېزي، فرانسوي، روسي، ترکي، هالنډي او جرمني لیکوالو ډېر مشهورو آثارو ته کتني سوي دي او د خپل ځانګړي لیدلوري څخه د دغو آثارو پر بېلابېلو اړخونو د یوې مقالې په حجم رږغېدلی او د یادو آثارو په باب ئې خپل انتقادي نظر ښکاره کړی دئ.
هره کتنه ئې دوې برخي لري. لومړۍ یا پیلیزه برخه د داستان د ماجراء پر جوهر راڅرخي، په دې برخه کې دا واضح سوې ده، چې د داستان له لیکلو څخه ئې د لیکوال موخه څه ده؟ او په کومه ټولنه کې چې داستان رامنځته سوی د هغې ټولنیز پر طبقاتي جوړښت څه ناځه رڼا اچول سوې ده.
دوهمه برخه د داستان پر شکلي جوړښت خبري لري او د خپلې تبصري د اثبات له پاره د داستان بېلابېلي برخي په لنډیز سره راوړي.
مثلاً د روسي لیکوال چخوف (مېرمني) نومي کیسې کره کتنه داسي پیلوي: «چخوف د خپلو ظریفو لیکنو په مجموعه کې د مېرمنو داستان خورا ډېره خوښاوه او اکثره به ئې د یارانو سره په مجلس کې لوست، په رشتیا چې دا داستان د ۱۹ مې پېړۍ په وروستیو کلونو کې د تزاري روسیې د ټولنیز فساد پر ضد د یو غښ اعتراض رږغ دئ. په داستان کې عناصر او برخوردونه ټول و دې واقعیت ته منتج کېږي چې دغه وخت د ټولني په اداره کې نارینه د ښځو په لاس کې لوبېږي. هر مېړه چې د ټولني له پاره واک اخلي، نو هغه کاملاً خلع صلاح دئ او ماینه ئې دده پر ټاکلې وظیفه حکمراني کوي. په ارستوکراتیک دولت کې د اداري ټولي چوکۍ ګاني د هغو خلکو په لاس کې وي چې د یوې ښځي په حمایت کې وي، په خاصه توګه که یوه ښکلې او نازولې مېرمن د یو چا په سپارښت ولاړېدله، نو کېدای سوای چې هر څومره لوی مقاومت په خپله نامشروع غوښتنه راضي کړي. چخوف د مېرمنو په داستان کې د دغسي یو ماجرا حکایت کړی دئ، خو دا ساده حکایت نه دئ، بلکې د علمي ټولنپېژندني یو جدي بحث ته ئې په خپل شهکار کې تحقق ورکړی دئ. داستان ډېر ظریفانه لیکل سوی دئ، چې هم سړي ته خندا پر ورځي او هم که سر په ګرېوانه کې وځړوې، باید د دغسي ټولني پر حال اوښکي توی کړي.» (عطایي، ۱۳۶۱)

وروسته د داستان اصلي بدنه په لنډيز سره را اخيستل سوې ده او پر مهمو ټکو ئې فشار راوړل سوی دئ. ابراهيم عطايي په دې ډول غوښتي دي چې هم د اصلي کيسې لنډيز لوستونکو ته وړاندې کړي او هم ځای ځای خپل انتقادي نظر ورسره مل کړي. تقريباً د هري کره کتني وروستی پاراګراف د مرحوم عطايي د انتقادي نظر نچوړ بلل کېږي.

د نړۍ والو پر آثارو د ارواښاد عطايي کره کتنو خورا اوږده موده په بر کي نيولې ده، له دغي مودې څخه د ارواښاد عطايي پُرکاري او له خپل کار سره مينه، حوصله او زغم له ورايه معلومېږي. په دغه اوږده موده کي ئې پر سلو نړی والو داستانونو لنډې و اوږدې کره کتني کړې دي، په دې باب د استاد عطايي خپل قول داسي دئ: «د تقريباً درو کالو راپه دې خوا مي د نړی د معروفو او نخبه داستانونو څخه د سل داستانونو په حدودو کي تر څېړني لاندې ونيول چي دا څېړني په پرله پسې ډول د زېري په جريده کي چاپ سوې.» (عطايي، ۱۳۶۲)

ابراهيم عطايي د نړۍ والو داستاني آثارو کره کتنه د يوې خاصي موخي له پاره کړې ده، ده غوښتل چي د نړی والو آثارو اغېزې او د نړی په خلکو کي د هغوی د ګرانښت او مقبوليت اسرار خپلو څوانو داستان ليکوالو ته وښيي. په دې باب يو ځای ليکي: «په دې کار کي اصلي مراد دا وو چي زموږ ځوان داستان ليکونکي ليکوالان د داستان ليکني له دغه رمز سره آشنا سي چي د نړی د نخبه داستانونو د ليکوالانو آثارو ته څکه دا ستر ارزښت ورپه برخه سوی دئ چي هغو په خپلو داستانونو کي د خپلي ټولني کلتوري خصوصياتو ته انعکاس ورکړی دئ.» (عطايي، ۱۳۶۲)

دغه کار که د مرحوم عطايي له آري او اساسي موضوع فولکلورپوهني سره سر لګوي، له بلي خوا موږ د نړی‌والو مشهورو آثارو په هغو اړخونو او خصوصياتو هم پوهوي چي ولي دغو آثارو ته د بېلابېلو ټولنو افراد ارزښت ورکوي، نو ويلای سو چي استاد په يوه تير دوه نښانه ويشتلي دي.

که څه هم ښاغلی خالق رشيد د استاد عطايي د خارجي آثارو کره کتني ته ډېر خوشبين نه دئ او وايي چي په ډېر سرسري ډول پر تېر سوی دئ. ښاغلی رشيد دغه کره کتني ته د چټکي کتني اصطلاح کاروي او بيا زياتوي چي کېدای سي استاد عطايي ته د دغو آثارو لنډيز په لاس ورغلی وي او خپله کره کتنه ئې پر شروع کړې وي (رشيد، ۱۳۷۰)

زه په دې برخه کي د ښاغلي خالق رشيد توضيحات پر ځای بولم خو دا ورسره زياتوم چي استاد عطايي مرحوم دغه کره کتني د يوه اخبار له پاره کړې دي او هغه مرحوم دا درک کړې وه، که کره

کتنه اوږده او مفصله وي کېداى سي جريده ئې د چاپ حوصله و نه لري او يا به نو يوه کره کتنه په څو اونيو کي چاپېدلاى.
دوهمه خبره دا چي د بهرنيو آثارو په باب د ښاغلي رشيد نظر پر ځاى دئ خو د افغاني آثارو په باب ئې کره کتني خورا ډېر ارزښت لري ځکه پر دغو افغاني آثارو ئې کوټلي او مغزن نظر څرګند کړى دئ او د دغو آثارو ټولي ښېګڼي او نيمګړي اړخونه ئې په خورا منصفانه ډول انتقاد کړي دي، چي د دوى له دغو کره کتنو څخه زموږ ځوان داستان ليکوال خپلي لاري مومي او د ارواښاد عطايي د انتقادي نظرياتو په مطالعه سره د حقيقت روښنايي ته ځانونه رسولاى سي.

## پايله

د داستاني آثارو په باب د ارواښاد عطايي ټولي کره کتني ارزښتمني دي په ځانګړې توګه د افغاني آثارو جامع نقدونه ئې په خاصه يادونه ارزي. د افغاني آثارو په باب د استاد کره کتني نسبت د نړۍوالو داستاني آثارو کره کتني ته بشپړي او هراړخيزي دي، ځکه د چاپ ځاى ئې کابل مجله ده، او استاد ته د دې موقع برابره وه چي د داستاني اثر تقريباً ډېري خواوي البته د خپل ځانګړي ليدلوري په چوکاټ کي تحليل او تفسير کړي او په دې توګه ئې غوښتي دي چي د هر ادبي اثر ټولي ښېګڼي او بدګڼي بيان کړي خو دغه فرصت د نړۍوالو داستاني په اثارو د کره کتني پر مهال ورته برابر سوى نه دئ، ځکه د نړۍوالو آثارو کره کتني ئې په زېري جريده کي چاپ سوي دي او ددې جريدې لمن نسبت کابل مجلې ته محدوده وه، دغه محدوديت د استاد قلم هم ټکنى کړى دئ او د ښاغلي رشيد په اصطلاح ځاى ځاى سرسرکي پر تېر سوى دئ. زه د دې مقالې د پايلې په توګه د استاد د نړۍوالو داستاني آثارو ځيني ځانګړتياوي په لاندي ډول يادوم:

- د موضوع په لحاظ: د ادبي داستاني آثارو کره کتنه، هغه که د افغاني داستان ليکوالو پر آثارو وي او که د خارجي داستاني آثارو په باب وي، په پښتو ادبي کره کتنه کي يوه ارزښتمنه او مبرمه موضوع ده، د هغه مهال په پښتو مطبوعاتو کي به خال خال د دغسي موضوع د سپړني او څېړني څرکونه ليدل کېږي، خو په دې برخه کي د ارواښاد عطايي کړى کار څو اړخيز اهميت لري، يو دا چي استاد خپله په داستان ليکنه کي د پراخ صلاحيت څښتن دئ، بله دا چي د کره کتني او د بېلابېلو خواوو په باب کاري سابقه لري، نو ځکه ئې کړى کار هم په افغاني مطبوعاتو کي د پوره اهميت لرونکى دئ.

- د کمیت له مخي: هغه مهال چي استاد عطایي د نړۍ پر مشهورو آثارو کتنه کوي، زموږ د ټولني ډېری اوسېدونکي د خارجي آثارو په مشخص ډول د داستاني آثارو سره ډېر بلد نه دي، دغي تشي ته په کتو سره د استاد عطایي کره کتني د کمیت له مخي ډېره لویه تشه ډکوي، ځکه په یوه مشخصه زماني مقطع کي د سلو نړۍ والو داستانونو په باب خپل نظر ښرګندول هغه هم په انتقادي ډول د پښتو کره کتني په تاریخ کي یو بې ساري کار دئ.
- د کره کتني ژبه: د دغو آثارو په کره کتنه کي هغه ډول ژبه استعمال سوې ده، چي د ادبي آثارو د کره کتني او انتقاد له پاره وړ او مناسبه وي. ژبه ئې له هر ډول ابهام او تعقیده خلاصه ده. د لیکلو ستایل ئې په زړه پوري دئ، په دې برخه کي ئې نه یوازي ساده والی او سلاست په پام کي نیولی دئ، بلکي هره مقاله ئې له پیله تر پایه د ځانګړي جذابیت ښخه برخمنه ده، چي لوستل ئې نه غمبېږي.
- د افغاني داستاني آثارو په باب د ارواښاد عطایي د قلم زور او توانايي او پر یادو موضوعاتو لاسبري د دغسي کره کتنو اصلي او اساسي برخه ده، نه یوازي دا چي د دغو داستانونو ښېګني ئې په ډېره خوږه او پسته ژبه ښرګندي کړي دي، تر څنګ ئې د نیمګړو خواوو په باب په ډېر جرئت نظر ښرګند کړی دئ او ځوانو داستان لیکوالو ته ئې د توصیې په شکل د داستان لیکني معیارونه او اساسونه هم ښوولي دي چي هغوی ته بویه کار ځني واخلي.

د پښتو ادبیاتو محصلینو او شایقینو ته په کار دي چي د ارواښاد استاد عطایي دغه کره کتني سره راټولي او په کتابي ډول چاپ کړي. په دې کار سره به ئې نه یوازي دا چي د پښتو ادبیاتو د کره کتني پر کوټه یوه پر ځای اضافه کړې وي، بلکي د ارواښاد استاد عطایي هغه خوارۍ او زهره ترکی چي په دې برخه کي ئې پر ځان تېري کړي دي هم بې ځایه سوي نه وي، او زموږ د مشرانو فرهنګیانو له جملې ښخه به د دغه حقدار محقق نظریات د ځوانو داستان لیکوالو له پاره د سرمشق سبب وګرځي.

## اخځلیکونه

پسرلی، اجمل. (۱۳۸۸). نجیب محفوظ څرنګه کیسې لیکي؟، کابل: سالنګ کتاب خپروونکی.

پسرلی، ایمل. (۲۰۲۰). د نړیوالو کیسو کیسې، کابل: سروش کتاب پلورنځی.

جهان، خورشید. (۱۹۸۹م). جدید اردو تنقید پر مغربی تنقید کې اثرات. هزاري باغ: منشا پبلکېشنز.

رشید، خالق. (۱۳۷۰). د پښتو هنري ادبیاتو د کره کتني لنډه تاریخچه. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

رشید، عبدالخالق. (۱۳۹۸ش). کره کتنه په یوه نوي نظر. کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.

عطايي، محمدابراهیم. (۱۳۶۱). مېرمني. (زېری جریده، پرله پسې ۲۴۴۷ ګڼه). کابلة د افغانستان د علومو اکاډمي.

عطايي، محمدابراهیم. (۱۳۶۲). زېری جریده ۳۸ – ۳۹ګڼه، (په نوې داستان لیکنه کي د فولکلور له منبع څخه د استفادې طریقه)، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

کرګر، اکبر. (۲۰۰۵). ادبیات او د انسان دننني نړۍ، کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

یون، محمداسمعیل. (۱۳۹۴). کره کتنه. کابل: د افغانستان د ملي تحریک فرهنګي څانګه.

Social Sceince
AcademicJournal
لید د ټولنيزو علومو علمي مجله
LSSAJ

# Ebrahim Ataee and the critical analysis of fictional works

Associate Professor Matiullah Rohyal
Department of Pashto, Faculty of Language and Literature, Kandahar University
Corresponding Email: mrohyal2013@gmail.com

## Abstract

Critical analysis is considered one of the main subjects of literary studies. Through critical analysis, we can identify the strengths and weaknesses of a literary work. The principles of criticism tell us that a critic should have no personal connection with the creator of the work, but rather focus on the work itself—examining its merits and flaws without personal bias, for the sake of the development and elevation of literature.

This research examines the literary critiques by Candidate Academician Muhammad Ibrahim Ataee on both Afghan and foreign fictional works. Professor Ataee's critiques of Afghan literary works have been published in Kabul magazine, (Kabul Majala)  while his critiques of international fictional works—which include reviews of approximately one hundred stories—have been published by Zerai journal (Zerai Jareda) during 1360s.

The professor has analyzed fictional works by international authors, including English, Russian, French, American, and others—whether they are novels or short stories. Examining the quantitative and qualitative aspects of these critiques is the main focus of my research.

First, the critiques of Mr. Ataee and other Afghan writers have been discussed. Then, in the analysis and findings section, the core essence of the late Ataee's critiques has been explored. Finally, a conclusion has been drawn, and some of the key features of Professor Ataee's critiques have been briefly highlighted.

**Keywords:** Ibrahim Ataee, fictional works, literary criticism..

Islamic Emirate of Afghanistan

Ministry of Higher Education

Helmand University

# Leed Social Science Academic Journal

Volume:2 Issue: 1 Year:1404